مولانا گل شبیر حقانی صاحب ۔ او ۔ ټي ۔
شاه ګئ ۔ خیبر ایجنسی

# دَ اکوړي شیخ الحدیث شیخ القرآن
# څهٔ شو؟

مرګیه وایه دَ عِلمونو هغه کان څهٔ شو — دَ حق پرستو قافلې هغه کاروان څهٔ شو
دَ اکوړي شیخ الحدیث شیخ القرآن څهٔ شو

(۱)

بوراګان ژاړي چه ګلشن کښې زمونږ ګل نشته — ګلشن ویجاړ شو اوازونه دَ بُلبل نشته
شمع دِ مړه کړه پتنګان پرِ سوزېدل نشته — دارالحدیث کښې قال الله قال الرسول نشته
دَ عالمانو طالبانو قدردان څهٔ شو — مینَ په دین چینه دَ عِلم او عرفان څهٔ شو
دَ اکوړي شیخ الحدیث، شیخ القرآن څهٔ شو

(۲)

وو عبدالحق، ویل ئې حق مرسته ئې دَ حق کوله — مقابله ئې هرمېدان کښې دَ ناحق کوله
چغه دَ حق ئې په ایوان دَ ضیاء الحق کوله — وینا چه ډاکه ئې دَ اِعلاء کلمة الحق کوله
عالمان ژاړي چه زمونږ میرِ کاروان څهٔ شو — مقابلې له دَ باطل مردِ میدان څهٔ شو
دَ اکوړي شیخ الحدیث، شیخ القرآن څهٔ شو

(۳)

شمع دَ دین وه پرِ راټول وُو پتنګان واړه — جمع به دهٔ وُو طالبان او عالمان واړه
ورله راتلل به امیران او غریبان واړه — وُو شاګردان ئې مجاهد افغانستان واړه
سپه سالار دَ مجاهدو دَ کمان څهٔ شو — هغه زمونږ دَ دعاګانو لوئ باران څهٔ شو
دَ اکوړي شیخ الحدیث، شیخ القرآن څهٔ شو

(۴)

اوس عِلّیّین کښې ئې تر اَبدُالآباد لره — سمیع الحق، انوار الحق ئې بامُراد لره
حقانیه او فضلاء ئې ټول آباد لره — ما مجاهد رب به په علم بانډ بناد لره
زما محبوب، زما مُرشد، ډېر مهربان څهٔ شو
دَ حقې لارې قلندر، درویش انسان څهٔ شو
دَ اکوړي شیخ الحدیث، شیخ القرآن څهٔ شو